# "پښتون او موسيقي" د پښتو زړې شاعرۍ په رڼا کښې (يوه تاريخي جائزه)

# Pashtuns and their music in the light of their classical poetry (A Historical analysis)

Dr. Nasrullah Majnoon*
Dr. Sajjad Elahi

**Abstract:**

Music is really called " food of soul" it Is the part of art which has no boundaries, because it is the tongue of birds and nature and our soul can understand it without any hurdle . when we talk of Pashto music it has thousand years ancient history most of the musical instruments are as old as our Pashto music our all folk son**gs are directly related and connected with all our classical poets that is Khushal Khan Khattak and Hazrat Rehman baba many more had closed spiritual inclination to worlds music in this essay we have thrown light on this important topic in order

**Keywords:** Pashtu Poetry, Rabab, Sandara, Naghma, Art and Culture

پښتانۀ چې د يوېشتمې صدۍ په ډګر د يو تس نس قام غوندې لګيا دي خپل تاريخ، خپله پېژندګلو، خپل نسل، خپل قام، خپل کلتور او خپلې خاورې په لټون کښې ئې سترګې يو خوا بل خوا اوترې نيولې دي۔ هر څو که نړۍ دا وخت ډېر پرمختګ کړے دے خو ولې پښتانۀ په شعوري ډول او په غېر شعوري ډول د دغې پرمختګ نه محرومه دي۔ د دغه محروميو بلها وجې کېدے شي خو ولې دلته زمونږه موضوع دغه نۀ ده بلکې په دغه پس منظر کښې د پښتون او موسيقۍ لټون کول دي، ځکه چې د تېرې څۀ مودې نه په پښتون وطن کښې موسيقي د بحث موضوع ګرځېدلې ده او هغه په دې وجه چې د يو خاص انتهاپسند ذهنيت د وجې يو خوا که په موسيقۍ رنګ رنګ قدغنونه اولګېدل نو بلخوا په سوونو موسيقاران تارچر کړې شول، اووژلے شول او يا د وطن نه بهر وشړلے شول۔ د

* Assistant Professor, Department of Pashto Islamia College Peshawar
** Lecturer, Department of Pashto Islamia college Peshawar

موسيقي حرامه که حلاله ؟ دغه سوال په ټوله نړۍ کښې صرف په پښتون وطن کښې د جواب په لټون دے۔ ولې زمونږه څېړنه په دغه موضوع نۀ ده ـ دلته د موسيقۍ يو يوه تاريخي جايزه د پښتو شاعرۍ په رڼا کښې وړاندې کوو۔ که د پښتون وطن تاريخي جائزه واخلو نو د پښتون وطن يوه داسې جغرافيه لري هلته دنگ دنگ غرونه، بهېدونکي سيندونه، ابشارونه، نخترونه، چينارونه، رڼې رڼې چينې، صفا صفا خوړونه په خپل ځان کښې په خپله يوه موسيقي ده. لکه اجمل خټک چې وائي:

"په دې ښکلې فضا کښې چې هم حسن شته هم مينه
رباب که دلته کېږدې نو په خپله به ټنگېږي"[1]

خو د دې فضا نه دغه ساز او سرود په يوه داسې طريقه وتروړلے شو يا تروړلے کېږي چې په کښې پښتون شناخت هم له مېنځه ځي۔ دلته به د موسيقۍ په حواله باندې لنډ غوندې بحث د تاريخ په رڼا کښې وکړے شي او بيا به دغه تاريخي لړۍ د پښتون او موسيقۍ سره پېوند کړے شي.

هر کله چې د لرغوني تاريخ مطالعه په نظر کښې ساتُو نو د انسان او موسيقۍ رشته د ازل سره تړلې شوې ښکاري۔ په غرونو کښې اوسېدونکي انسانان او په غارونو کښې اوسېدونکي انسانان، په مېدانونو کښې اوسېدونکي تهذيبونو يا په ګُور ځنګلونو کښې اوسېدونکو ټولنو خامخا رسمونه نمانځلي دي او دغه رسمونه د ډېر پخوا نه د موسيقۍ د الاتو سره لازم ملزوم راروان دي ـ لکه د ارياؤ هغه منترونه، شلوکونه چې د وېدونو برخې دي يو وخت د کاغذ کتاب د نشت په وجه د موسيقۍ (ترنم) د الاتو د لارې خوندي ساتلے شوي وو چې نن ورته د روحاني سندرو مقام حاصل دے او دغسې د نړۍ بلها قديم روحاني پېغامونه د موسيقۍ يعنې د (سندرې) د لارې خوندي پاتي شوي دي لکه لوي مثال ئې دلته د پېغمبر داوود عليه السلام دے چې شپونکےۀ خپل الهياتي پېغام به ئې په داسې سندريز اواز کښې اورولو چې د خلقو په زړونو به ئې اثر کولو۔ لکه رحمان بابا چې وائي:

"هـــــر اشـــــيا د حـــــق ثنـــــا کـــــا
پـــــــه نغمـــــــــه لکـــــــــه داوود
کـــــه بېـــــدار شـــــې خـــــو بـــــه اورې
پـــــــه هـــــــر لـــــــوري دا ســـــــرود"[2]

وروستو چې کله یونیانو په فلسفه ګوتې پورې کړې نو دغه وخت موسیقۍ ته د پوره علم توجه ورکړې شوې ده ځکه چې هغوي د ځینې نفسیاتي ناروغیو علاجونه په موسیقۍ باندې کول. تر دې افلاطون چې کله د خپل خیالي ریاست بنیاد ږدي نو د هغه ځوانانو د پاره موسیقي اوربدل ضروري ګڼي کوم چې د ملک او د وطن محافظان دي. ځکه چې د افلاطون په خیال موسیقي په انساني جذباتو کښې رحم پېدا کوي. لکه دلته د افلاطون د کتاب نه حواله ور کولے شي چې:

"وې وئیل موخه دې څۀ ده ؟

ورته مې ووئیل موخه مې دا ده، چې لومړۍ ډله غوسناک او وحشي روزل کېږي او دوېمه ډله نرم او ضعیف النفس.

وې وئیل هو! رښتیا هم ما لیدلي هغه کسان چې په ټول ژوند کښې یواځې ورزش کوي ډېر غوسناک او وحشي مزاجه وي او هغه ډله چې ژوند ئې موسیقۍ له پاره ځانګړے کړے وي، داسې نرم وي چې هډو وئیلے نۀ شم."[3]

دغسې وروستو چې مونږه ګورو په ګندهاره کښې موسیقۍ لوړ مقام لرلے دے. لکه راشد خان چې کله د رباب په حقله خبره کوي وائي چې:

"د ګندهاره تهذیب جوړښت د مختلفو ثقافتونو د یو ځائې کېدو نه کېږي چې په کښې د یوناني، رومن، فارس، چینیان او د دې خطې د ارین خلقو د تهذیبي رنګونو اثر لیدے شي. هم په دغه ډول د یو قسم ځانګړې مجسمه سازۍ ارټ ابتدا چې شوې هم په وړومبۍ صدۍ کښې د کوشانیانو د دور نه سر اخلي. د دې مجسمو د لارې د مهاتمه ګوتم بدھ د تعلیماتو پرچار شروع شوے دے. ځکه د دغه دورې د علمیت سره د تهذیب او تمدن اندازه هم د دې مجسمو نه لګي. د کومو سازونو ذکر چې په وېدي کتابونو کښې شوے دے د هغې شکل او صورت د دې دورې په مجسمو کښې مونږ ته ملاوېږي. دغسې د ګندهاره ارټ په دغه مجسمو کښې مونږ ته د بلها سازونو حوالې ملاوېږي."[4]

اوس چې کله پښتونخوا ته راځو نو په کوز او بر دواړو سيمو کښې د اشر، غوبل، وادۀ، د ماشومانو سنتونه، اختربزې مېلې او نوروز سره سره داسې ډېر دودونه دي چې باقاعده په کښې د موسيقۍ نه خوندونه اخستلے کېدل اؤ اخستلے کېږي. دغه رنګ د موسيقۍ دغه ځرکونه مونږه د پښتو په کلاسيکي شاعرۍ کښې هم وينو چې تر دې دمه پرې چا باقاعده نظر نۀ دے کړے. د صوفيانو ډله موسيقي (سما) د خپل زړۀ د تسکين او د خالق ته د نزدېکت ساز او سامان ګڼي. هسې هم که د ټولې نړۍ تصوف وکتلے شي يا ولوستلے شي نو رقص د صوفيانو شېوه پاتې شوې ده. په دغه لړ کښې د پښتونخوا صوفي پير روښان او د هغۀ مريدان شاعران هم د سما د اورېدو قايل دي.

دلته د مرزا خان انصاري شعر وړاندې کولے شي چې:

"پــــر دا صـــاف صـــوفي جـــايزه ده ســـما
چـــې ئـــې خاصـــه بـــې ريـــا کـــا بـــې طمـــا"[5]

پښتنو په هغه وخت کښې موسيقي ځان ته غرولې ده او د دې نه ئې خوند پورته کړے دے ـ داسې ښکاري چې دغه وخت د سماع د حرام او حلال بحث د سره وۀ نا ـ لکه چې خوشحال خان خټک په يوه رباعي کښې وائي چې :

"غضـــب ملـــوک لـــره دروغ مُـــلا لـــره
بخـــل غنـــي لـــره فحـــش نځـــا لـــره
دا ځلـــور توکـــه هـــر ګـــوره بـــد دي
فکـــر چـــې راغـــے پـــه زړۀ کښـــې مـــا لـــره"[6]

يعنې خوشحال په دې عقيده دے چې که بادشاهانو سره غضب ملؤ او مُلا دروغ وائي نو دا د ټولنې د پاره زيانمند دي. هم دغسې نځا هم يادوي چې که دا فحش وه نو هومره زيانمنده ده لکه دغه نور توکي. هم دغسې الزام اخون درويزه هم په بايزيد انصاري لګوي چې دے سماع کوي او په کښې ښځې او سړي سره ګډ کښېنوي. د حالنامې او د ځينو نورو اثارو د مخه خو دا خبره ځرګنده ده چې پير روښان په موسيقۍ باقاعده کتاب ليکلے دے خو تر دې دمه دغه اثار لا زمونږ په لاسو کښې نشته او دغسې خوشحال خان خټک چې دستار نامه ليکي نو د نورو هنرونو سره سره د دستار د سړي د پاره په موسيقۍ باندې عبور لرل هم شرط ګرځوي. په دستارنامه کښې اتلسم هنر د موسيقۍ دے خوشحال ئې

خصوصيت بيانوي. په دغه خصوصيت کښې مونږ د هغه وخت د موسيقۍ د موجود آلاتو اندازه هم د دې پېراګراف نه لګولے شُو لکه چې وائي:

"لحن او نغمه سره لازم ملزوم دي، سرود د خلې لحن و اواز ته وائي، چې په خلهٔ لهٔ خنجرې اواز وخوت شي، يا سرنا نا ے، شپېلۍ موسيقار دا سرود دي۔ لکه رباب، سرينده، چارتاره چې په لاسو په ګوتو وهل شي تر ډوله تر دفه پورې دا واړه الت د سرود دي."[7]

اوس دغه موضوع چې د پښتو په کلاسيک شاعرۍ کښې نور لټوو نو په دغه بهير کښې تر ټولو اول د خوشحال خان خټک هغه شعر چې په تېر وخت پسې ارمان کوي او وائي چې د هغه جونو اواز به لکه د رباب ؤ چې زهٔ به ورته په وجد کښې راتلمه لکه دا شعرونه:

"د هغـــــه دلبـــــرو پښــــې شـــــوې تـــــورې خـــــاورې
چـــــې پـــــه پښـــــو ئـــــې ژرنګېـــــدل راتـــــه خلخـــــال

د څرېـــــــو خـــــــو بـــــــه ژغ لکـــــــه ربـــــــاب ؤ
پـــــه اواز بـــــه ئـــــې د مـــــا و وجـــــد حـــــال"[8]

د پښتنو په نفسياتو کښې د ذات پات قيصه ډېره زياته لرغونې ده. د موسيقۍ د الاتو غږوونکي ته ډم وئيلے شي او په ټولنيز ژوند کښې هر څو که دغه ډم عام انسان دے او يو خاص هنرمند دے خو د خلقو په ذهنونو کښې د دهٔ مقام سپک وي. اکثر دغه ډمان د مريانو غوندې ساتلے شوي وي. د هرې لوئې قبيلې په فقيرنامه کښې خدمتګار ته ډم وئيلے شي. ډم که د نسل نه ډم وي او که نه خو بعضې داسې خلق چې د قبيلو په خدمت مښته شي هم په ډم بللے شي. خوشحال خان خټک هم په يو شعر کښې دغه تذليل د ډم کوي لکه وائي:

"د اصـــــيل ښـــــېوه خپـــــل اصـــــل نـــــهٔ لبـــــاس دے
پـــــه زربـــــافتو کښـــــې يـــــا ډم وي يـــــا مريونـــــه"[9]

د خوشحال نظر د پښتنې ټولنې اجتماعي نظر دے او داسې ښکاري چې د شپاړسمې صدۍ دغه نظر نن هم په پښتنه ټولنه کښې عام دے. هم هغسې ډم اصيل نهٔ ګڼلے کېږي.

هم دغه رنګه نفسيات د عبدالحميد مومند هم دي. د موسيقۍ سره د پښتنو مينه او د دې د الاتو يا د دې غږوونکو ته سپک کتنه په پښتنو کښې ډېر د پخوا نه را روان دي. دغه د ذات پات خبره اګر چې په انسانانو کښې د ازل نه روانه ده. خو دلته حميد بابا هر څو که شاعر دے په شعر کښې دومره نازک خياله دے چې د پښتني اولسي اخلاقياتو خلاف خبرې ئې د شعر په نازکخياله پيرايه کښې بيان کړي کړي دي، خو چې د ډول خبره شي نو هم هغه خبره ده چې (پښتانۀ موسيقي خوښوي خو د ډول نه نفرت کوي) لکه دا شعر:

لـــــه وهلـــو بـــه ئـــې شـــرم څـــوک پـــه څـــۀ کـــا
چـــې پـــه غـــاړه شـــي د مينـــې ډول د چـــا"[10]

خوشحال چې کوم معيار بيانوي په هغې کښې هم د هغې د پاره د سندرو او د سرود ذکر راوړي مطلب دا چې پښتنو کورونو کښې سندرو او سرودونو باندې خاص قدغن نۀ ؤ. لکه خوشحال په کوک ساشتر کښې نېک فرجامه دا سې ستائي چې:

خـوراک پـه انـدازه خـوري خوشـبوئي ئـې لکـه ځـان وي
لــږ خــوب کــا ډېــره لامبــي تــل پــه ســتر ســحر وينبــېږي

مئينــــه پــــه هــــوس وي خنــــده رويــــه شــــيوه ناکــــه
پــه لوبــو پــه ســندرو پــه ســرود ئــې زړۀ خوښــېږي "[11]

خوشحال که هر څو په دستارنامه کښې د اتلسم هنر د موسيقۍ په حواله وائي چې يوه ډله ئې حرامه ګرځوي او بله ډله ئې حلاله خو که د خوشحال خپله مطالعه وکړے شي نو خوشحال د رباب، سندرې او سرود په مرسته کښې غږېدلے دے. د خوشحال په نزد باندې رباب او سرود د شېطاني کارونو ضد دے. لکه دا شعر چې:

"د شـــــېطان لـــــه چـــــارو لـــــرې ګرځـــــه
يـــو درنـــګ مـــه اوســـه بـــې چنـــګ و بـــې ربابـــه"[12]

لکه څۀ رنګه چې امام غزالي وائي چې:

"هغه څوک چې سماع او موسيقي ئې په حرکت او خوځښت رانۀ ولي نو له عقلي او بدني ناروغۍ سره مخ او نيمګړے دے."[13]

هم دغه رنګ خوشحال خان خټک هم وائي چې :

"د چارپــــايو پـــــه حســـــاب دي ســــــړي نــــــهٔ دي
چـــې پـــــه ســــاز د ســــوختګانو نــــاره نـــهٔ کـــا"[14]

عبدالقادر خان خټک چې د خوشحال خان خټک زوے دے او د پښتو په لوړو شاعرانو کښې د دهٔ نامه راځي، دے يو صوفي او عالم شاعر ؤ ځکه چې يو خوا ئې د حديقه خټک په نوم ښکلے ديوان مرتب کړے دے نو بل خوا ئې د ترجمو په مد کښې څلوېښت حديثونه هم منظوم ژباړلي دي چې د دې نه ئې د علميت اندازه په اسانه باندې لګي۔ عبدالقادر خټک چې د رحمان بابا او حميد بابا همعصر دے وائي چې زهٔ په رباب ځکه مئين يمه چې د دې په اواز د زړګي پرهرونه ټکوربږي بلکې د زړه پرهرونه پرې ګنډلے کېږي دلته ئې دغه شعر وړاندې کولے شي چې :

"پــــه اواز ئـــــې د زړګـــــي پرهـــــار ګانـــــډهٔ شـــــي
مئـــــين ځکـــــه د ربـــــاب پـــــه ذيـــــل او بـــــم يـــــم"[15]

رحمان بابا چې د پښتو ژبې تر ټولو مقبول شاعر ؤ. د هغوي متعلق په پښتون اولس کښې په روايتي توګه بلها خبرې مشهورې دي چې په کښې يوه دا خبره هم ده چې رحمان بابا باقاعده رباب غږولے دے. بل خوا دا خبره هم چې هغه يو عالم او صوفي شاعر ؤ۔ هر څو که دغه بحثونه لا متنازعه دي يا نورو څېړنو ضرورت لري خو ولې تر کومه حده چې د رحمان بابا او د موسيقۍ خبره ده نو د رحمان بابا په ټول ديوان کښې د رباب د غږولو ذکر دولس ځله شوے دے۔ دلته چې ئې کوم شعرونه وړاندې کولے شي د هغې نه داسې بربښي چې رحمان بابا واقعي خپله رباب غږولے دے۔

"چـــې ئـــې غـــم غلطومــــه د شــــپې پــــاڅم
کلــــه مــــے پـــــه شـــــونډو کښـــــېږدم کلـــــه نــــے
ګــــه کتــــاب ګـــهــــے ربــــاب پــــه لاس راواخلـــم
بــــارې درد مــــې پــــه هــــېڅ رنــــګ نــــهٔ کــــا کمــــے"[16]

رحمان بابا په ټول ديوان کښې صرف يو ځائې د رباب يا د سما د منفي رايه قايل تلے دے او وئيل غواړي چې په کومه خلهٔ باندې د خدائې پاک ثنا صفت وشي نو په هغه خولهٔ بيا رباب غږول او سما کول ښهٔ عمل نهٔ دے. لکه دغه شعرونه چې :

"پـــه هغـــو غـــوږو چـــې ذکـــر د خـــدا ے اورې
بيـــا ســـماع پـــه هغـــو غـــوږو د ربـــاب کـــړې "[17]

خو ولې بل ځائې وائي چې د خلقو پوچې خبرې اورم نو د هغې نه راته زيات د رباب او سندرې اوربدل غوره دي يا خوند راکوي ـ وائي چې :

"تـــر دا پوچـــه ګفتګويـــه چـــې ئـــې اورم
پـــه نغمـــه پـــه ترانـــه د ربـــاب خـــوښ يـــم"[18]

او بيا په تېره تېره د رحمان بابا د دې شعر نه خو داسې څرګندېږي چې د هغۀ شعرونه په پښتونخوا کښې دومره مقبول شوي وو چې په کورونو کښې د تمبلې سره لکه چې غړېدل او د باګرام ترکو ورسره رقص کړے دے. که چرې دا خبره مونږه د حقيقت په ضد وګڼو او خالص د رحمان بابا يو روماني کېف ئې تصور کړو نو بيا هم د شعر نه که د رحمان بابا سندرې مراد نه وي نو عموماً د باګرام د ترکو يو عمراني تصور ترې سازېدے شي ـ لکه رحمان بابا وائي چې :

"هـــم نغمـــې کانـــدي هـــم رقـــص کـــا هـــم خانـــدي
د رحمـــــان پـــــه شـــــعر ترکـــــې د بـــــاګرام"[19]

عبدالعظيم سواتے يا عبدالعظيم رانېزے چې د رحمان بابا د مکتب فکر او هم عصر شاعر دے ـ په خپلو شعرونو کښې د رباب زکر هم کوي او د راګ ټپه خيال پنجاب زکر هم کوي ـ او داسې برېښي چې عبدالعظيم سواتے هم لکه د رحمان بابا غوندې رباب غږولے دے ـ

"تويـــــوم د زړۀ خونـــــاب د مـــــرګ لـــــه لاســـــه
غـــــږوم د غـــــم ربـــــاب د مـــــرګ د لـــــه لاســـــه
وظيفـــه مـــې شـــوه ســـماع پـــه صـــبح شـــام کښـــې
راګ ټپـــه د خيـــال پنجـــاب د مـــرګ لـــه لاســـه"[20]

د عظيم بابا په دې شعرونو کښې هر څو که د راګ او رباب زکر شته او د مرګ له لاسه ئې ځان ته غږوي نو يو مقصد ئې مجازي هم کېدې شي او هغه دا چې د مرګ له وېرې آه و فرياد شايد چې ورته سما وئيل شوي وي ـ خو بيا هم دا خبره څرګندېږي چې د راګ او رباب سره لکه چې عظيم بابا اشنا ؤ ـ

د پښتنو په حجره کښې د رباب منګي دغه مجلسونه داسې قديم دي۔ خو د پښتو شاعرۍ په لار ئې لټوو نو هغه داستانونه او نکلونه چې په اولس کښې مقبول وو خو سينه په سينه باندې د رباب منګي او سندرې د لارې خوندي ساتلي شوي دي۔ د ادم خان درخانۍ د داستان په حواله زلمےهيواد مل وائي چې!

"له دغه شاعرانو مشر به ذوقيانو (چې ئې نکلچيان بولي) سربېره ځينې په اوسنۍ اصطلاح کښې سندرغاړي په پخوانۍ اصطلاح کښې مطربان او قوالان هم د دې نکلونو اورونکي دي۔صدر خان خټک د ادم خان درخانۍ په تمهيدي برخو کښې دې خبرې ته داسې اشاره لري

دا قصــــــه لـــــــه مطربـــــــانو
يـــــا لـــــه نـــــورو قصـــــه خوانـــــو
پـــــه بـــــل شـــــان و مـــــونږ تـــــه کېـــــږي
تاتـــــه بـــــل شـــــان معلـــــومېږي"[21]

د پورته بحث په رڼا کښې که چرې مونږه د پښتنې ټولنې جاج اخلو او ګورو نو داسې بربښي لکه چې:

دغه موسيقي د دې د کلتور برخه وه.

1. په حجرو کښې رباب

ارو مرو غږېدل اګر چې دا عامه خبره ده چې په پښتنه ټولنه کښې په حجره کښې رباب خامخا وي خو دلته ئې چې مونږه د دې نماينده شاعرانو په شاعرۍ کښې وينو نو يو قسم له ارتقائي سفر ئې په لاس راځي.

2. په پښتنه ټولنه کښې

ډمه ګډول يا دربم جنس (اجرا) ګډول کوم کلتور هيڅ په نظر نه راځي او داسې ښکاري چې دغه عمل پښتنې حجرې ته د انګرېزانو د راتګ سره راغلي وي۔ ولې چې انګرېزانو دغه خوښولې او هغوي بيا دغه پروګرامونه د مجرو په شکل کښې

ځان ته کول. دغه عمل د انګرېزي دربار نه د پښتنو د ملک، خان او نواب حجرې ته راغلے او دغسې عام شو۔ دلته دغه عمل باید چې غندنه وشي.

3. داسې نۀ چې د پښتو موسیقۍ، حجرې او کلتوري اقدارو باندې د کفر فتوې پورې شي او بندېزونه پرې ولګي۔

# حوالې

[1] : اجمل خټک، د اجمل خټک کلیات، اعراف پرنټرز پېښور، ۲۰۲۰، مخ ۲۷۶

[2] : عبدالرحمان بابا، د رحمان بابا دیوان، مصحح، مدوین او مقابله کوونکے عبدلرؤف بېنوا، ۱۹۴۷، مخ ۴۰

[3] : افلاطون، جمهوریت، ژباړن سېد نسیم سېدي، صمیم ادبي ټولنه ،2010ء، مخ201

[4] : راشد احمد خان، رباب د تاریخ په رڼا کښې، پښتونخوا انټرنېشنل، شماره ۵، باچاخان چیئر عبدالولي خان پوهنتون، ۲۰۲۰، مخ ۵۶

[5] : مرزا خان انصاري، دیوان مېرزا خان انصاري، مرتب ډاکټر پروېز مهجور خېشګي، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، ۲۰۰۴ء، مخ ۲۶

[6] : خوشحال خان خټک، ارمغان خوشحال، مقدمه سېد الرسول رسا، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور، دوېم چاپ ۲۰۰۱ء، مخ ۱۹۱

[7] : خوشحال خان خټک، دستارنامه، پرتلنه او څېړنه عبدالقیوم ذاهد مشواني، درېم چاپ، مومند خپروندویه ټولنه، 2020، مخ ۱۳۵

[8] : خوشحال خان خټک، ارمغان خوشحال، مقدمه سېدالرسول رسا، مخ ۹

[9] : هم دا کتاب، مخ ۷۶

[10] : عبدالحمید مومند، د عبدالحمید مومند کلیات، اصف صمیم، دانش خپروندویه، درېم چاپ ۲۰۱۵، مخ ۱۶

11 : هم دا کتاب، مخ ۷۹

12 : هم دا کتاب مخ ۳۳۲

13 : شاه ولي الله، موسيقي پهٔ اسلام کښې، ليکوال محمد حسن حقيار، مخ ۷۶

14 : خوشحال خان خټک، ارمغان خوشحال، مقدمه سيد الرسول رسا، مخ ۳۱۹

15 عبدالقادر خان خټک، حديقه خټک، مرتب سيد انوار الحق، يونيورسټي بک ايجنسي، مخ ۹۹

16 : رحمان بابا ديوان، مصحح، مدوين او مقابله کوونکے عبدلرؤف بېنوا، مخ ۱۵۸

17 : هم دا کتاب، مخ ۱۳۳

18 : هم دا کتاب، مخ ۷۶

19 : هم دا کتاب دا کتاب، مخ ۷۵

20 : عبدالعظيم بابا، ديوان عبدالعظيم بابا، زېب آرټ پبلشر محله جنګي پېښور، ۱۹۹۰، مخ ۵۳

21 : زلمے هېواد مل، د پښتو د نثر اتۀ سوه کاله، دانش خپروندويه ټولنه، ۲۰۱۱ء، مخ۲۷۱

# References in Roman


1. Ajmal Khattak, Da Ajmal Khattak kulyat, Araaf printers Mahalla Jangi Peshawar, 2020, p276
2. Abdul Rahman, Da Rahman baba dewan, Edited abdul Rauf benawa, 1947,p40
3. Aflatoon, Jamhoryat, Translated, Seyed Naseem Sayedi, Samim adabi Tolana, 2010, p201
4. Rashid Ahmad Khan, Rabab da tarekh pa ranra ke, Pashtunkhwa international journal Abdul Wali Khan University Mardan, 2020, p56
5. Mirza Khan Ansari, Dewan-e-Mirza Khan Ansari, Edited Dr parvez Mahjor, Pashto academy University of Peshawar, 2004, p26
6. Khushal Khan Khattak, Armaghan-e-Khushal, Muqadema Sed Rasool Rasa, University book agency Peshawar, Dwem chap 2001, p191
7. Khushal Khan Khattak, Dastar nama, Edited Abdul qayom Zahid Mashwanri, Mumand Khprwandoya Tolana, 2020, p135
8. Armaghan-e-Khushal, p9
9. Armaghan-e-Khushal, p76
10. Abdul Hameed Mumand, Da Hameed baba dewan, Asif Samim, Danish Khparandoya, 1915, p12
11. Armaghan-e-Khushal, p79
12. Armaghan-e-Khushal, p332
13. Shah wali Ullah, Museqi pa islam k, Muhammad Hasan Haqyar, p72
14. Armaghan-Khushal, p319
15. Abdul qadar Khan Khattak, Hadiqa Khattak, Edited Sayed anwar ul Haq, University Book Agency Peshawar, 1999, p99
16. Da Rahman baba dewan, p158
17. Da Rahman baba dewan, p133
18. Da Rahman baba dewan, p76
19. Da Rahman baba dewan, p75
20. Abdul Azem Baba, Dewan Abdul azem baba, Zaib Art publications, 1990, p53
21. Zalmy Hewad Mal, Da pukhto da nasar ata sawa kala, Danish Khparwandoya Tolana, 2011, p27